مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هاجره حرکت ۲۰۲۱/۱۱/۲۶

# خپلواکی ته

ته لیلا مي خپلواکی يې
تـه د میـني ښـاپیـری يي
د تیارو سپینه سپوږمی يې
شـیرینو د مومن خان يې
بندي کړي ظفر خان يې
د مـجـنـون ورکه لیلا يې
د فـرهاد د غره هوا يې
ته درخو د ادم خان يې
نن ته وړي پایو خان يې
تـه پـري د هندوکش يې
د ملوک د زړه هوس يې
بـیـنظیـره د مـمـتاز يـې
د مـیـن زړګـي اواز يـې
دلـي ګرزي سرګردان دی
چي شهي لوي ارمان دی
خـشـکـیـار دي لـټـویـنـه
تـه د مـیـنـي شـاتـریـنـه
شـمـایـلـه د جـلات يـې
نـن پـر تـا دي نـنـواتي
ستا طالب طلب په زور کړی
ګلبشري مینه پیغور کړي
ګـل انـدامه د بـهـرام يـې
تـښـتـولـي تـرابـان يـې
ته رابـعـه د فتح خان يې
يـا بـیـبـو د ښادي خان يې
ګل مکی د موسي خان يې
که مابی د ظریف خان يې
شیربانو د یوسف خان يې
مـحـبـوبـا د هر افغان يې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ